# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



درویش وردک

۱۲ دسمبر ۲۰۱۶

# حفیظ منصور او د موسی شپونکی

وایی موسی علیه السلام کوه طورته روان و، او په یوه شپانه چی رمه یی پوله پیش شو، شپون چی په کلکه معتقداوذاکرو،اوتوله ورځ به یی درمی پولوترښنګ خپل غنی بادارته مناجات کول او ویل به یی: ای خدایه راشه چی درته تازه شدی درکړم! راشه چی جامی اوښپلی دی وګندم اوراشه چی ...! موسی علیه السلام چی دده دغه ډول مناجات واوریدل نو ورته وویل چی ای شپنه : زما اوستا خدای له دی اړتیاو ښخه بی نیازه دی، توبه وباسه چی کفرته ووتی! اوورته یی لازم مناجات دخپل دین مطابق وښول چی وروسته له دی به دخدای پاک ته دغه ډول مناجات کوی! موسی علیه السلام شپونکی خوارله سلګونو سوداو سره پریښود اوخپلی لاری ته یی دوام ورکړ. کله چی کوه طورته دالله عزّوجلّ دکلام اوریدو ته لاړ،نو الله جلّ اعلا ورته وفرمایل چی ای موسی ! تا څه وکړل؟ زما هغه بنده چی ۲۴ ساعته زماسره بوخت و اوزه یی یادولم خپه کړ اوشک دی ورواچاوه! څه لاړ شه او ورته ووایه چی ستا پخوانی عبادات هم قبول دی او وروسته هم په هماغه پخوانی ډول عبادت کوه. موسی علیه السلام همداسی وکړل اوشپونکی خواریی بیرته دل آسا کړ، چی خپل عبادت په خپله طریقه کوه! ډیره موده ترمنځ تیره شوه اوبل ځل بیا دخدای استاذی په هماغه شپونکی وربرابرشو اوتری وپی پوښتل چی شپونکیه عبادت دی څرنګه پرمخ ځی؟ شپونکی په ځواب کی ورته وویل : ای دخدای استاذیه اوس دی چی شک راواچاوه نو، هماغه پخوانی خوند می په خپل عبادت کی بیا و نه موندا!؟

هوکی ګرانوهیوادوالو! زمونږ د شپانه په څیرصادق اوخدای پالونکی افغان ملت سره کټ مټ همداسی وشول. دشوروی پروړاندی زمونږ دملت د سپیڅلی جهادپه وخت کی په سلګونو مکتبونه اومدرسی په پاکستان کی جوړی شوی اودکمونستی ایدیولوژی په مقابل کی یی داسلام ډیرافراطی تعبیرچی ورته سامی تعبیراوتشبیهی اواصالتی تعبیرهم ویل کیږی، زمونږ دځایی (بومی ) تعبیرځای نیوونکی شو. اربعه مذاهب جمع جعفری مذهبونه یی بدعت وبلل اودخلکو د۱۴ پیړیوپه باورونو یی دبطلان کرښه وکښله.

خبره ساده اوروښانه ده: ددوهمی نړیوالی جګړی(۱۹۴۵-۱۹۳۹) وروسته دوه ملکونه دنړی په نقشه کی په مذهبی نفرت باندی جوړشول: اسرائیل په یهودی نفرت اوپاکستان په اسلامی نفرت(۱). لومړی یی دمسلمانانوکورونه ورانوی، پری ظلم کوی او وژنی یی، دوهم ملک ورته ددین په نامه مدرسی جوړی کړی اوګواکی دفلسطین دخپلواکی

لپاره جنګيالی روزی. له همدی ټکی څخه تروريزم اوافراطيت پيل شو چی اوس يی دوره په موصل اوحلب کی آسمان ته پورته شوه.

ولی ددی ناورين اوددی افراطيت اوپه اوسنی ژبه ددی تروريزم دانی پخواکرل شوی وی. انګريزانودلومړی نړيوالی جګړی (۱۹۱۸-۱۹۱۴) په ترڅ کی چی دعثمانی امپراطوری سره په اروپاکی په جګړه بوخت و، عربان چی دترکانو ترولکی لاندی و، وهڅول چی خلافت خودعربو ميراث دی اوترکان خوعجم دی، همداو چی په عربوکی يی دترکانوپرضد پاڅونونو ته لمن ووهله اودجګړی په پای کی کله چی عثمانی ترکانو ماته وخوړله نوغربيان راغلل اوعرب يی يوپه بل پسی ونيول اوحتی فرانسوی عسکروخو په بيت المقدس کی دصلاح الدين ايوبی قبر په لغتوواهه چی مونږ بيا راغلو اوعربان هم هيڅکله خليفه ګان نشول ولی دسره اوتوراستعمارلاس په نامه نوکران وګرځيدل.

بيا نودبالفور(دانګليس دوخت دبهرنيوچاروزير) داعلاميی په پايله کی يهوديان وتوانيدل چی دغربيان تراواکمنی لاندی په فلسطين کی ځمکی په بيه واخلی چی تردوهمی نړيوالی جګړی پوری يی داسرائيلو ددولت جوړيدو ته زمينه برابره کړه.

وايی چی انګريزان په سوونو کلونو مخکی وړاندوينه کوی؟ داريښتيا ده! دننی استعماری جګړی لپاره دوی لا پخوا دنفرت دانی کرلی وی، دمسلمانانو احساسات يی په خپله ولکه کی راوستی و،په اشغال شوی هندکی يی داهل سنت اوجماعت لپاره ددیوبند مشهوره مدرسه جوړه کړه اوهم يی په اشغال شوی مصرکی الازهرشريف وزيږاوه.

همدی دوه فکری مرکزونوداوومی پيړی شيخ ابن تيمه (په شام کی اوسيده) دنظرياتوپربنسټ نورفکری جريانونه وزيږول، په حقيقت کی دغه ته بايد ديوډول اسلامی ريويزيونيزم(بياکتنی) په سترګه وکتل شی، نه داسلامی افراطيت په نامه، لکه چی په مسيحيت کی چی پروستتانتانودسنتی عيسويت پروړاندی اعتراض وکړ. ددی فکری جريان اساسی ګذار( اربعه و+جعفری) مذاهبواواسلامی عرفان باندی دی چی ترډيره دملتونوپه همغږی-تسامح اوبشری اصولوباندی تکيه کوی، متوجه دی.

مخکی داسلام څخه دوری ته په عربوکی دبت پرستی اوجهالت دوری ويل شوی، ځکه هلته فکری مرکزونوشتون نه درلود يوڅه عيسويت په شام اوڅه يهوديت په يثرب کی و. اودخلکوعقايد هم يوازی په معدودو رواجونومتکی و.کله چی داسلام مبين دين دساسانيانوله ماتی وروسته منځنی آسيا اودهند نيمی وچی ته خپورشو،نو ددريو لويو اديانوسره مخ شو(بودايی، زردشت اوبرهمن) چی دری واړه يی زمونږ په ګران هيواد کی هم شتون درلود، اوپه سوو اوحتی زرهاوکلونه يی وده کړی وه. عرب مسلمانانو به چی کوم ملک مات کړ نوجزيه(ماليه) به يی پری ولګوله اواسلامی مبلغينو ته به يی دتبليغ اجازه ورکوله، بيانوداعلماو چی په دليل اومنطق اوثبوت سره يی په فکری لحاظ په دی اديانولاس بری وموند اواسلام دسيمی په لوی دين بدل شو.

ترنن پوری داسلامی عظمت اوتمدن دوه لويی دوری تيری شوی. لومړی دوره چی ترډيره عربی محوره وه دچنګيزترحملی پوری(شپږمه پيړی) اودوهمه دوره بيا دچنګيزله دوری وروسته دسرمايه داری استعمارپوری عجم محوره دوره ده. که دی دواړو دورو ته وکتل شی نو داسلام دين په دی دوو دوروکی خوراوده وکړه، ديونان اوسکندريی اوزردشت اوبودا فلسفی ټولی داسلامی علماولخوا ترڅيرنی لاندی ونيول شوی اودکتاب اوسنتو په رڼا کی قالب بندی شوی، په همدی دوروکی داسلام دين ته په غيرعرب ژبوکی ډيرزياد خدمتونه وشول، بخاری، ترمذی، ابوداود، مسلم، حديقه، مثنوی،جامی اونورپه سلګونه اوزرګونه اسلامی آثارمنځ ته راغلل. همدلته وچی داسلام هغسی تعبيرشکل وموند چی دکتاب اوسنتو په رڼا کی دغيرمسلمانانوسره دګډژوند(تسامح) لپاره زمينه برابرره شوه چی د ابوحينفه ،غزالی ، ابن عربی،فارابی ،ابن سينا،اوسهروردی(دخدای رحمتونه دی پرټولووی) ، مکتبونه جوړشول چی

تولوپخوانیوفلسفوته یی په اسلام کی خواب وموند اوهغی یی په اسلامی عقایدوکی ځای پرځای کړه، ددی دوری عاملو عالمانوهغه وحشی مغول هم مسلمانان کړاوبیا یی ددوی په لاسونو اسلامی تمدن اوتفکرته لوی خدمتونه پری وکړل.
دغه مکتوبونه دفقهی اوعقیدتی تعلیماتوترڅنګ، دانسان روزنی ته اودهغی دمعنویت پاکولو ته خاصه پاملرنه وکړه اوظاهری اسلامی علم ترڅنګ یی دباطن علم ته وده ورکړه، ددوی زیار دزړه اوباطن په پاکوالی اودنفس سره مبارزی ته ځیردی چی په پایله کی انسان هغه مقام ته چی الله پاک ورته اعطاءکړی(خلیفة الله) ته لوړکړی اودمطمئنه نفس خاوند شی.
کله چی په اتلسمه پیړی کی صنعتی انقلاب وزیږیداولومړنی ماشین دانرژی په وسیله په حرکت راغی(۲) نوصنعتی ملکونه په انرژی پسی شول. اوارووپایانو دصلیبی جګړو راوروسته یوځل بیا اسلامی ملکوته مخه کړه چی هلته یی دوه لویی دتیلوحوزی(دفارس خلیج اوکسپین غاړی) کشف کړی.
ددی انرژی دترلاسه کولو اوتضمین کولولپاره یی ددی سیمی دخلکوعقایدواوباورونو ته ننوتل اوهغه طبعی عکس العمل چی باید ددوی په مقابل کی(پاځونونه) ترسره شوی وای، هغه یی داسی مهندسی کړل، چی له یوی خوایی ترننه خپل نظام(صنعت) پری وچلاوه اودبلی خوایی داسلام ددین دخپوریدو مخه ونیوله. دوی په زیرکی سره داسلامی اخوت فلسفه په کرکجنونظریاتو باندی ولړله اوهغسی احادیث یی راپیداکړل چی زمونږ خلک ورسره تردی دمه نه و آشنا، اوپه معتبروماخذونوکی هم شتون نلری.
کله چی دشلمی پیړی په پیل کی افغانستان ته دوبینتوب(ریسانس) مخه شوه، نوپه دوو متضادو څیروکی ریسانس هیوادته راننوت: چپی مارکسیستی ریسانس اواسلامی(سلفی-وهابی) ریسانس. دوی دواړوخپله مبارزه دپوهنتون څخه پیل کړه، دسیدال وژنه داسلامی نهضت دغړو پواسطه به خلکو ته یادوی. بیا کله چی د داود خان واکمنی راغله نو دغه ډلی پاکستان ته ولاړی اوهلته یی دحکومت په نسکورولوپسی متی راونغښتی اودشوروبانو تریرغل وروسته خویی غوا لنګه شوه اوملت هم په دوی پسی آمنا وکړه اوبالاخره یی خبره ترالقاعدی اوداعش پوری راورسیده.
دمهاجرت په چاپیریال کی په سلګونووهابی مشربَه مدرسی اومعهدونه دعربوشیخانوپه مرستوجوړشول اوزمونږفکری عقیدتی محیط دهمدی نظریاتوپه رڼاکی وده وموندهٔ اونن سبا خوهراکادمیک ځای اوپوهنتونونو کی یوازی اویوازی همدا نظریات خپریږی اوښاغلی حفیظ منصورپه دی هکله په ډیرجرات سره داخبره کړی چی داسلامی ثقافت ترعنوان لاندی ، تروریستی درسونه ورکول کیږی. همداسی ده هرپوهنتون اوهره موسسه چی داسلام په نامه کاراوفعالیت کوی، نونظریات همدا وهابی-سلفی اوداعشی دی، ځکه مذهبی اوعرفانی تعلیماتوته بالکل شا شوی، اودخلکو په سترګوکی یی زیارت پرستی، نوروزپرستی، مولود پرستی ، مرده پرستی، قیاسی، اوبدعت کار معرفی کړی، پداسی حال کی چی همدا دمعرفت اوځان پیژندنی لاری دی.کومه خبره چی حفیظ منصورکړی باید دیوه ډیالوګ پیلامه شی ترڅوزمونږ ځوانان ددینی تسمم نه چی یوپاکستانی ملاه یی په ۱۵ دقیقوکی انتحارته برابروی، وژغورل شی.
منل شوی اصل دی چی کله څوک په کوم ځنګله، دښته اویا ښارکی سره ورک کړی نودیوبل موندلو ترټولو غوره لاره داده چی هماغه ټکی ته لاړشی چی وروستی ځل یی سره لیدلی و. هوکی مونږپه ۶۰ لسیزه کی په پوهنتون کی سره ورک کړل، اوترټولوغوره لاره داده چی بیرته هماغه لاړشواویوبل سره ومومو، که مونږخپلو سنتی عقایدوته چی دکتاب الله اوسنتوپه سیوری کی ودی ته رسیدلی اودتاریخ په کوره کی ترتجروبو بریالی راوتلی، لاس واچوو،نودغه دمذاهبواوتکفیرولوجګړه اودښه اوبد جنت وعدی به چی یوازی افسانی دی، پای ته ورسیږی. دحافظ شیرازی(رحمة الله علیه) په قول:

**جنګ هفتاد و ملت راعذر بنه چون ندیدند حقیقت ره افسانه زدند**

**یادونه:**

۱-( په حقیقت کی داسلام په سپیڅلی دین کی نفرت نشته، ځکه دغه دین سپیڅلی دی اوله هرډول نقصاناتو څخه مبری اودبشردخیراوښیګڼی دین دی ، زمونږګران اومحبوب پیغمبررحمت للعلمین دی، چی چاته یی حتی ښیراهم نده کړی).

۲-(جیمزواټ لومړنی دبخارماشین په ۱۷۷۸کی جوړکړچی دوه هاړس پاوره ځواک یی درلوداودډبروپه سکروچلیده- زما په آند دغه لومړنی( **ماشوم دجال)** وچی حرکت یی وکړ او اوس په ډران اوټانک بدل شو. داحادیثومطابق: دجال یوه سترګه لری( مانیتور، ویندوز) دمرکب(خره) پښه یی تروریځی پورته ده( سټلایټ-سپوږمکی) اواشرفی به تری توئیږی(ډالراونور) جنت اودوزخ به یی جوړ کړی وی(حلب اونیویارک) نه به مړوی نه به حی وی(ماشین) ولی غذابه خوری(تیل ،ذغال، یورانیوم)) ۱۴۰۰ کاله مخکی بدوی اعرابوته تردی غوره اوروښانه تعبیر ددجال بل نشی کیدای کوم چی سرورکائنات خپلو اصحابو ته وړاندی کړ؟؟؟).

ددجال دعصرپه هکله داتمی پیری شیخ شاه نعمت الله ولی دیوان چی پکی ددی عصر وړاندوینی شوی کتل بی ګټی ندی.